سید عبید الله نادر

۲۰۲۱/۰۱/۰۹

# منصوری فلسفه

له خودی چي می، نظر کړلو خپل ځان ته
نو ستا تـــصویر می، په وجــود کي ولیده

خــپل وجــود می، معمـــــــا وه د اسرارو
په حقــیقت کــــي هغه څه چي مـــا لیده

منکران د حقیقت به تريِ، انـــــکار کړي
چي هــــغوي دي تل غفـلت په خــوب بیده

تجــــــلی ســــتا د آیینـــی وه په سینه کي
هره شیبه چي می، صــــورت کـــي ځلیده

سر ګردانه په کـــــعبه او بتـــــــــخانه وم
خــو ستا د مینی لیــــلا، زړه کـــي نڅیده

خپل وجــود راته کـــانون، د مـــعرفت وو
چي وحــدانیت نښه، پری ښـــکلی ښکاریده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولــئ